سلام خان

۲۰۱۱/۰۸/۲۸

# ولسمشرکرزی د انتخاباتو د خپلواک کمیسون پرېکړه تایید کړه

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي دوه ور ځې وړاندی د انتخاباتو د خپلواک کميسون پرېکړه تاييد کړه چې پر اساس يې د اوسنۍ ولسي جرګې نهه غړي سلب اعتماد شوي او پر ځای يې له معترضو کانديدانو نهه تنه نور د ولسي جرګې بريالي غړي اعلان کړي دي، د اختصاصي او استيناف محکمو له پرېکړو سره سم د اوسنۍ ولسي جرګې ۶۲ غړي په درغلۍ محکوم شوي وو او بايد د محکمې له پرېکړې سره سم له جرګې ايستل شوي او پر ځای يې نور کسان جرګې ته لاړ شي سره له دې چې د افغانستان جمهوري رياست او د انتخاباتو خپلواک کميسيون د ولسي جرګې انتخاباتي شخړه پای ته رسيدلې ګڼي، خو په جرګه کې له قانون څخه ملاتړه ډله، دا پريکړه غيرقانوني ګڼي او وايي، چې په هيڅ ډول به يې منلو ته غاړه کښېنږدي، د ولسي جرګې د شنبې د ورځې عمومي غونډه د قانون څخه د ملاتړې ډلې، اصلاح غوښتونکو او اداري هيات ترمنځ د تودو بحثونو او سپکو اوسپورو شاهده وه، حتی ځينې لاسونه، ځينو ګريوانونوته هم ورسيدل، دا شوراو زوږ او يوبل ته سپکې سپورې او يو بل پسې پورته هغه مهال پيل شول چې د اصلاح غوښتونکو د ډلې غړی مولوی شاهزاده شاهد، د انتخاباتو د خپلواک کميسيون وروستۍ پريکړه د انتخاباتي کړکيچ د ختميدو غوره لاره وبلله. داصلاح غوښتونکو په استازيتوب د مولوی شاهد خبره دا وه چې د اصلاح غوښتونکو ډله **د انتخاباتو د کميسيون وروستۍ پريکړه د بحران د ختميدو يوازينۍ لار ګڼي او موږ يې ملاتړ کوو.**

په ولسي جرګه کې د هرات يوې استازی د دې جرګې پر غړي شهزاده شاهد وروسته له هغه ښځينه څادر واچاوه، چې د اصلاح غوښتونکو د ايتلاف په استازيتوب يې د ټاکنو د کمېسيون له پرېکړې ملاتړ اعلان کړ.

ځانګړې محکمې د ولسي جرګې د تير کال ټاکنو ٦٢ معترض کانديدان بريالي اعلان کړل او که يې پرېکړه پلې شوې وی، نو هغو ٦٢ تنو به د جرګې غړيتوب له لاسه ورکړی وو، چې د ټاکنو کمېسيون بريالي اعلان کړي و.

خو د ځانګړې محکمې تر پرېکړې وروسته، ولسمشر د استيناف محکمې له قرار سره سم موضوع د ټاکنو خپلواک کميسيون ته راجع کړه او کمېسيون نهه معترض کانديدان بريالي وبلل او د جرګې د نهو تنو واک يې سلب کړ، مخکې ولسي جرګې د ځانګړې محکمې او د کميسيون پرېکړې ناسمې او ناقانونه بللې وې او ويل يې، چې د جرګې ټول غړي بايد په دې برخه کې په يوه خوله وي ،خو په ولسي جرګه کې د کونړ استازي مولوي شهزاده شاهد، چې نن يې د جرګې په عمومي غونډه کې د اصلاح غوښتونکو د ايتلاف په استازيتوب خبرې کولې، د ټاکنو د کمېسيون له وروستۍ پرېکړې ملاتړ اعلان کړ، سيمن بارکزۍ چې نوم يې د هغو نهو تنو په نوملړ کې شامل دی، چې د کميسيون د پرېکړې له مخې بايد له جرګې وايستل شي، د شاهد د خبرو په غبرګون کې پاڅيده او تور ښځينه څادر يې په عام مجلس کې د شهزاده پر سر دوه ځلې ور واچاوه، دې د څادر اچولو پر مهال شهزاده ته ويل:" وشرميږه، وشرميږه، ملي خاينه، د بارکزۍ د دې عمل په پلويتوب، په ولسي جرګه کې له قانون نه د ملاتړ ايتلاف غړو د ميزونو په ډبولو لاس پورې کړ، دوی وروسته له خپلو ځايونو پورته شول او هڅه يې کوله، چې پر مولوي شهزاده شاهد باندې ګوزارونه وکړي؛ خو نورو وکيلانو يې مخه ډب کړه ، له قانون نه د ملاتړ ايتلاف له خوا محمد نعيم حميدزي لالي او د اصلاح غوښتونکو د ډلې له خوا عبيدالله بارکزي هم يو بل ته د سپکو سپورو ويلو ترڅنګ د يو بل د ډبولو هڅې وکړې؛ خو نورو وکيلانو يې مخه ونيوه.

د غونډو په تالار کې ټول وکيلان له خپلو څوکيو پاڅېدلي وو او له يو بل سره يې نانديرۍ وهلې، د غزني استازې هما سلطاني او د بدخشان استازي عبدالولي نيازي هم يو بل ته د لاسونو په ښورولو د وهلو ګواښونه کول.

چيغې ډېرې وې، ټولې خبرې نه اورېدل کېدې؛ خو د سلطاني اواز دومره تر غوږ شو، چې نيازي ته يې ويل: "يو ځل بيرون ته راووځه، زه به درسره ګورم.

د ولسي جرګې رييس عبدالرووف ابراهيمي د شخړې د پای ته رسېدو په موخه دوه ځلې د غونډې پای اعلان کړ.

د رييس په دغه اعلان سره، اصلاح غوښتونکي د غونډې له تالار څخه ووتل؛ خو له قانون نه د ملاتړ ايتلاف غړو په اداري پلاوي فشار راوړ، چې غونډې ته دوام ورکړي، له غونډې بهر د کنفرانسونو په تالار کې د اصلاح غوښتونکو ايتلاف غړو، د يوې خبري ناستې په ترڅ کې د سيمن بارکزۍ ياد شوی حرکت په کلکه وغنده.

دوی د نورو معلوماتو له ورکولو پرته ويل، چې بارکزۍ دغه کار په جرګه کې د يو شمير هغو کسانو په اشاره کړی دی، چې غواړي جرګه په خپل انحصار کې وساتي.

د ولسي جرګې رييس عبدالرووف ابراهيمي د جرګې په نننۍ غونډه کې رامنځته شوې شخړه په کلکه وغندله او اعلان يې وکړ، چې جرګه به تر راتلونکې شنبې د اختر په مناسب تعطيل وي.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

داسي ښکاري چې د افغانستان حکومت او په مجموع کې دولت له کامل بحران سره مخامخ شوی، وروستیو معاملو او لانجو د قضا او ولسي جرګې اعتبار ته سخت زیان اړولی او حکومت هم په نړیواله ټولنه کې له خپلو متحدانو څخه لیري شوی او هم د خپلو ادارو له لوري له مخالفت سره مخامخ دی.

پای

2011/08/28


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ